**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**
**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۱۱** (از ۲۰ الی ۲۷ جوزا ۱۳۹۶ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه .......... ۲

**د منځني ختيځ نوی ډيپلوماتيک بحران او پر سيمه يې اغېزې**

منځنی ختيځ؛ په نړیوال سیاست کې .......... ۴

په منځني ختيځ کې پېچلي رقابتونه .......... ۴

د خليج بحران ولې رامنځته شو؟ .......... ۵

پر قطر او سيمه يې اغېزې .......... ٦

**هفدهمین نشست سازمان شانگهای و تاثیرش بر افغانستان**

سازمان همکاری‌های شانگهای (SCO) .......... ۹

نشست اخیر در آستانه .......... ۹

تلاش جلب همکاری به افغانستان .......... ۱۰

تاثیرات و دست‌آوردها برای افغانستان .......... ۱۱

## مقدمه

منځنی ختیځ د تاریخ په اوږدو کې د بحرانونو ټاټوبی پاتې شوی. له تېرو څو کلونو راهیسې، کله چې په دې سیمه کې د عربي پسرلي تر نوم لاندې د مستبدو حکومتونو پرضد د پاڅونونو څپې راپورته شوې، دغلته یو انساني ناورین پیل شوی چې تر ټولو زیات پکې سوریه وځپل شوه.

تازه په دې سیمه کې یوه ډیپلوماتیکه زلزله وشوه او له قطر هېواد سره د سیمې څو هېوادونو په ناڅاپي توګه خپلې ټولې سیاسي، اقتصادي او سوداګریزې اړیکې وشلولې او له دغه هېواد سره یې تګ‌راتګ بند کړ. د دغو هېوادونو په سر کې سعودي عربستان او عربي متحده امارات دي، چې سیاسي او اقتصادي پرېکون یې پر قطر اغېزې هم ښندلې شي. که څه هم له قطر سره د دغه چلند لامل له ایران او ځینو توندلارو ډلو سره د دغه هېواد اړیکې بلل شوې دي؛ خو د پردې تر شا نور لاملونه شته دي چې سعودي او امارات یې پارولي دي. دا لاملونه کوم دي؟ او دغه بحران به په لنډ او اوږدمهال کې د سیمې پر وضعیت څه اغېزې وکړي؟ په اړه یې د تحلیل په لومړۍ برخه کې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل د ځانګې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې د شانګهای همکاریو سازمان د وروستي کنفرانس په اړه لولئ. د شانګهای سازمان ۱۷مه غونډه چې د ولسمشر غني په مشرۍ افغان پلاوي هم ګډون پکې وکړ، د قزاقستان په پلازمېنه استانه کې جوړه شوې وه. دا چې په دې غونډه کې څه تېر شول او د افغانستان لپاره یې لاسته راوړنې څه وې؟ هغه پوښتنې دي چې د تحلیل په دویمه برخه کې ځواب شوې دي.

# د منځني ختیځ نوی دیپلوماتیک بحران او پر سیمه یې اغېزې




د روانې میلادي میاشتې جون (۲۰۱۷) په پیل کې په خلیج کې یو داسې بې‌ساري دیپلوماتیک بحران رامنځته شو، چې تر دې وړاندې یې اټکل نه شو کېدای. دغه دیپلوماتیک بحران هغه مهال رامنځته شو، چې کله سعودي عربستان، بحرین، مصر او عربي متحده اماراتو په لسو دقیقو کې دننه یو پر بل پسې له قطر سره دیپلوماتیکې اړیکې پرې کړې. دغو هېوادونو له قطر څخه خپل سفیران راوبلل او د قطر سفیرانو او قطري وګړو ته یې هم له خپلو هېوادونو څخه د وتلو اعلان وکړ. د سیاسي اړیکو د پرېکون ترڅنګ، دغو هېوادونو له قطر سره خپلې پولې هم وتړلې او اقتصادي راکړه‌ورکړه او هوایي او سمندري تګ‌راتګ یې هم بند کړ.

له قطر سره د سیاسي اړیکو دا بحران اوس یوازې تر خلیج پورې محدود نه دی، بلکې د منځني ختیځ په کچه غځېدلی. په بل عبارت، دا موضوع اوس نړیواله شوې او همدا لامل دی، چې د نړۍ بېلابېل او ډېری هېوادونه د خبرو اترو له لارې د دغه بحران هوارولو په تړاو څرګندونې کوي. دغه راز د دغه بحران د حلولو په تړاو له کویټ او ترکیې څخه نیولې تر ملګرو ملتونو پورې د قطر او سعودي ترمنځ د منځګړتوب غوښتونکې دي.

دا چې په خلیج او منځني ختیځ کې دا بحران ولې رامنځته شو، اوسمهال په کوم حالت کې دی، احتمالي پایلې او اغېزې به یې څه وي؟ دلته پرې شننه کوو.

## منځنی ختیځ؛ په نړیوال سیاست کې

د اسلام له راتګ راهیسې، منځنی ختیځ نه یوازې دا چې پېښې جوړوونکې سیمه ده، بلکې اغېزې یې هم پر اسلامي نړۍ تر ټولو زیاتې وې. د منځني ختیځ وروستیو سلو کلونو تاریخ ته په کتلو سره ویلای شو، چې دا په نړیواله کچه هم یوه پېچلې سیمه ده او ډېری مهال له اسلامي نړۍ او سیمه‌ییزو هېوادونو پرته یو شمېر نړیوال زبرځواکونه هم په دې سیمه کې ښکېل شوي دي.

اوسمهال په نړیوال سیاست کې د لاندې عواملو له کبله د منځني ختیځ ارزښت زیات شوی دی:

- د عرب-اسراییل قضیه؛
- د سوریې بحران؛
- د سوریې کډوال؛
- په منځني ختیځ کې د اسلامي دولت ډلې ظهور؛
- په اروپايي هېوادونو او امریکا کې له اسلامي دولت ډلې سره د تړل شویو کسانو بریدونه؛
- د منځني ختیځ د انرژۍ وسایل او د بېلابېلو هېوادونو د انرژۍ د امنیت موضوع؛
- سیاسي اسلام او اسلامپالي؛
- د ایران اتومي پروګرام او له ۱+۵ هېوادونو سره یې د اتومي پروګرام پر سر هوکړه؛
- له دغې سیمې څخه د نړۍ د ډېری سوداګرۍ تېرېدل؛

او یو شمېر نور عوامل دي، چې د دې سیمې د ارزښت زیاتېدو ترڅنګ یې د نړیوالو پام ځان ته اړولی دی.

## په منځني ختیځ کې پېچلې رقابتونه

په منځني ختیځ کې د نړیوالو، سیمه‌ییزو او په خپله د ځایي هېوادونو ګټې له یو بل سره تل په ټکر کې وي؛ له همدې کبله منځنی ختیځ یوه پېچلې سیمه ګڼل کېږي.

په عمومي ډول له تېرو څو لسیزو راهیسې، په منځني ختیځ کې نه یوازې دا چې د نړیوالو زبرځواکونو رقابت روان دی، بلکې په خپله د سیمه‌ییزو او ځایي هېوادونو ترمنځ هم رقابتونه په اوج کې دي. په منځني ختیځ کې دا رقابتونه یوازې تر سُني-شیعه قضیې پورې محدود نه دي، بلکې په خپله د منځني ختیځ په سُنیانو کې هم دا

رقابتونه لیدل کېږي. د بېلګې په توګه د ایران او سعودي ترمنځ سړه جګړه او رقابت، د ترکیې او سعودي ترمنځ رقابت، د ترکیې او مصر ترمنځ رقابت او د قطر او سعودي ترمنځ رقابت.

په منځني ختیځ کې د دغو رقابتونو تر شا په سیمه کې د دغو هېوادونو سیمه‌ییزې ګټې، په سیمه کې ستراتېژیک نفوذ، د مشرۍ پر سر سیالي او مذهبي اختلافات رول لري.

## د خلیج بحران ولې رامنځته شو؟

که څه هم، له قطر سره د یو شمېر خلیجي هېوادونو د دیپلوماتیکو اړیکو پرېوالی کومه نوې خبره نه ده، بلکې له دې وړاندې هم په ۲۰۰۲ کال کې سعودي له قطر څخه خپل سفیر د الجزیرې ټلویزیوني شبکې د نشراتو له کبله راوبللی و. په ۲۰۰۸ کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ بیا دیپلوماتیکې اړیکې خړې پړې شوې؛ خو په ۲۰۱۴ کال کې بیا سعودي، بحرین او عربي اماراتو له قطر سره دیپلوماتیکې اړیکې پرې کړې. دا چې د منځني ختیځ اوسني بحران ته څرنګه لاره هواره شوه، دوه ډوله عمده لاملونه لري: لومړی یې سطحي او څرګند عوامل دي؛ دویم یې بیا د پردې تر شا عوامل دي.

**سطحي او څرګند عوامل:** په سطحي توګه دغه بحران د ۲۰۱۷ کال له اپرېل میاشتې څخه هغه مهال پیل شو، چې کله د قطر حکومت په عراق کې له یو شمېر شیعه او سُني وسله‌والو ډلو سره یوې معاملې ته ورسېد. د دغې معاملې له مخې، دغو وسله‌والو ډلو ۲۶ تنه قطریان له ۱۶ میاشتو بند وروسته خوشې کړل، چې د قطر د شاهي کورنۍ غړي هم پکې شامل وو او په بدل کې یې د فاینینشل ټایمز مجلې له مخې تقریباً ۷۰۰ میلیون ډالره ایران‌پلوه شیعه ډلو ترلاسه کړي دي[1]. شاید دغه وضعیت به سعودي پارولی وي؛ ځکه د قطر له‌خوا له ایران‌پلوه شیعه ډلو سره په ډېره لوړه کچه پیسې تبادله شوې؛ خو د عراق د ولسمشر په وینا دا پیسې له ډلو سره نه دي، بلکې اوس هم د عراق په مرکزي بانک کې پرتې دي.

په دویم قدم کې په سعودي کې د ریاض کنفرانس و، چې درې برخې یې درلودې: «د خلیج همکارۍ سازمان او امریکا»؛ «عربي نړۍ او امریکا»؛ او «اسلامي نړۍ، عربي نړۍ او امریکا». په دغه کنفرانس کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم برخه اخیستې وه. ویل کېږي، سعودي عربستان د ټرمپ له ملاتړ وروسته د قطر پرضد د اقدام پرېکړه کړې وه. همدا لامل دی، چې وروسته ټرمپ هم په خپل ټویټر پاڼه کې ولیکل: «منځني ختیځ ته

[1] https://www.ft.com/content/dd033082-49e9-11e7-a3f4-c742b9791d43

زما په وروستي سفر کې ما وویل، چې له دې وروسته به راډیکال ایډیالوژي فنډ کېږي نه. رهبرانو قطر ته گوته ونیوله-وګوره!».

له همدې امله له قطر سره له ديپلوماتيک پرېکون وروسته، سعودي د هغو کسانو او ادارو لیست خپور کړ، چې د قطر هېواد مرستې ورسره کوي. په دغو کسانو کې د اوسنۍ اسلامي نړۍ مجتهد او پیاوړی منځلاری عالم یوسف قرضاوي هم شامل و.

په درېیم قدم کې دغه بحران د هیکینک له کبله رامنځته شو. په لومړي سر کې د قطر خبري اژانس د نامعلومو خلکو لهخوا هیک شو او د قطر امیر، شیخ تمیم بن حمد آل ثاني ناویل شوې خبرې پکې نشر شوې. د قطري امیر له خولې یې په دغه وېبپاڼه کې ولیکل: «ایران یو سیمهییز او اسلامي ځواک دی، چې له نظره نه شي غورځېدلی او دا غیرحکیمانه ده، چې پرضد یې څوک ودرېږي. دا د سیمې په ثبات کې یو مهم او لوی ځواک دی.»

**د پردې تر شا عوامل:** د پردې تر شا عواملو کې بیا د الجزیرې خبري شبکه، له اسلامپالو ډلو او په تېره بیا له اخوان المسلمون او حماس څخه د قطري حکومت ملاتړ، د قطر خپلواک بهرنی سیاست او په منځني ختیځ او سیمه کې فعال رول لوبول دي. لاندې د څو بېلګو یادونه کوو چې سعودي یې پارولی دی:

- په عربي پسرلي کې د الجزیرې خبري سرويس لهخوا د ولسي پاڅونونو پراخ ملاتړ؛
- په مصر کې د سیسي د کودتا په غبرګون خپرونې؛
- د الجزیرې لهخوا له اسرائیلپلوه ادارو سره د عربي اماراتو د سفیر هیک شوي ایمیلونه خپرول؛
- په قطر کې اخواني مشرانو ته پناه ورکول او له شیخ یوسف قرضاوي څخه پراخ ملاتړ؛
- حماس یوه مقاومتي ډله ګڼل؛
- له ایران سره د نورو عربي هېوادونو په پرتله ښې اړیکې لرل؛
- او د منځني ختیځ په ځینو قضایاو کې د منځګړتوب رول لوبونه او داسې نور.

## پر قطر او سیمه یې اغېزې

**نوي اېتلافونه؛** که څه هم د منځني ختیځ اوسنی ديپلوماتيک بحران به په سیمه کې ډېر ژور او نوي اېتلافونه رامنځته نه کړای شي؛ خو که چېرې دغه بحران دوام ومومي نو بیا یې احتمال زیات دی. بیا هم اوسني کړکېچ ترکیه او ایران، قطر ته نږدې کړي. په ټوله کې په منځني ختیځ کې بحرانونه تر ټولو زیات د روسیې او ایران په

ګټه دي. همدا لامل دی، چې اوس ايران هم له دغه فرصت څخه ګټه پورته کوي او د قطر د اقتصادي محاصرې پرمهال د غذايي توکو د لېږدولو له کبله د نرم ځواک د ګټلو هڅه کوي. که څه هم د ترکيې او سعودي اړيکې د ملک سلمان له واک ته رسېدو سره ښې شوې؛ خو په اوسني بحران کې د ترکيې پاملرنه او همدردي له قطرسره ده. ځکه نو د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان هم څو ځله د قطر محاصره کول د روژې په مياشت کې له اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې وبلل.

**د انرژۍ امنيت؛** قطر په نړۍ کې د "ايل پي جي" ګاز توليدوونکو په سر کې ځای لري. که څه هم ډېری په دې اند دي، چې اوسنی بحران به د تېلو او ګازو په نرخونو ډېره اغېزه ونه ښندي؛ خو بيا هم که دغه بحران په خليج کې ډېر وخت ونيسي، نو بيا به يې د تېلو او ګازو پر نړيوالو نرخونو هم اغېزه زياته شي. دغه راز به له قطر څخه په صادرېدونکو ګازو هم اغېز ولري او هم به پر هغو هېوادونو چې له قطر څخه ګاز واردوي.

**په قطر يې اقتصادي اغېزې؛** د قطر پرضد راپورته شوی خوځښت يوازې تر ديپلوماتيک پرېکون پورې محدود نه دی، بلکې اقتصادي پرېکون يې هم مهمه برخه ده. قطر چې خپل ډېری خوراکي توکي له دغو عربي هېوادونو په تېره بيا له سعودي څخه واردول، اوس پرې بنديز لګېدلی. که څه هم تراوسه د ايران، ترکيې او يو شمېر نورو هېوادونو د مرستو له کبله دغه وضعيت ډېر پېچلې او کړکېچن شوی نه دی؛ خو که چېرې دغه بحران اوږد شي نو پر قطر به يې اغېزې زياتې شي. د دې ترڅنګ د سعودي، مصر او اماراتو الوتکو هم قطر ته او له قطر څخه پروازونه منع کړي دي. دغه وضعيت به د قطر پر الوتکو او هوايي شرکت هم زياتې اغېزې ولري؛ ځکه دغه الوتکې به افريقا، اروپا او امريکا ته خپل پروازونه له نورو لارو کوي، چې دا به بيا لګښتونه زيات کړي او د قطر الوتکو ته به دروند زيان واړوي.

**انساني بحران؛** له څو عربي هېوادونو څخه له درېيو ورځو نيولې تر ۱۴ ورځو پورې د قطري وګړو شړل او سعودي ته پر راتګ يې بنديز، ان عمرې ته هم نه پرېښودل تر ډېره يو انساني بحران هم رامنځته کړی او ترڅنګ به يې مکې معظمې ته له تګ څخه د قطريانو منع کول هم د خلکو غوسه وپاروي.

**اسلامپال او ورسره تړلې ډلې؛** په سيمه او په تېره بيا منځني ختيځ کې د سياسي اسلام پلويان او يا اسلامپال به هم له دغه وضعيت څخه هغه مهال اغېزمن شي، چې قطر د سعودي په مشرۍ له ځينو عربي هېوادونو سره د دوی په سر کومه معامله وکړي. خو د قطر د بهرنيو چارو وزارت او حکومتي چارواکو اوسنيو څرګندونو ته په کتلو سره د دې احتمال زيات دی، چې قطر به داسې کومې معاملې ته تن ورنه‌کړي.

# هفدهمین نشست سازمان شانگهای و تاثیرش بر افغانستان



این بار شهر آستانه پایتخت کشور قزاقستان میزبان نشست سران "سازمان همکاری‌های شانگهای" (SCO) بود. در این نشست که در روزهای ۸ و ۹ ماه جون سال جاری میلادی برگزار گردید، اشرف غنی رئیس جمهور افغانستان نیز دررأس یک هیأت عالی‌رتبۀ دولتی اشتراک کرد.

رئیس جمهور غنی علاوه بر اشتراک و سخنرانی، در حاشیه‌های این نشست با رؤسای جمهور چین، تاجکستان، ازبکستان، نخست وزیران هند و پاکستان، وزیر خارجۀ ایران و نیز سکرتر جنرال سازمان همکاری‌های شانگهای نیز دیدار و گفتگو کرد.

سازمان همکاری‌های شانگهای یک سازمان میان دولتی_منطقوی بوده و افغانستان نیز به حیث کشور مطرح در جغرافیای این حوزه، از سال ۲۰۱۲م به این‌سو به حیث عضو ناظر در نشست‌های این سازمان اشتراک می‌کند و پیشنهاد عضویت کامل به سازمان شانگهای را نیز داده است.

در این تحلیل پیشینۀ سازمان همکاری‌های شانگهای، نشست اخیر (جون ۲۰۱۷) در آستانه، دیدارهای رئیس جمهور غنی در حاشیه‌های این نشست و تاثیرات این اجلاس بر قضایای مربوط به افغانستان، مورد بررسی قرار گرفته است.

## سازمان همکاری‌های شانگهای (SCO)

پنج کشور منطقه (چین، روسیه، قزاقستان، قرغزستان و تاجکستان) سازمان «شانگهای ـ ۵» را در سال ۱۹۹٦م به منظور تقویت اعتماد متقابل، غیرنظامی کردن مرزها، مبارزه با افراط‌گرایی، مواد مخدر و گروه‌های جدایی طلب، بنیان نهادند. بعدا در سال ۲۰۰۱م زمانیکه ازبکستان نیز به این سازمان پیوست، «شانگهای ـ ۵» به «سازمان همکاری‌های شانگهای» تبدیل شد. منشور سازمان همکاری‌های شانگهای (SCO) که در آن اهداف و اصول سازمان و همچنان فعالیت‌های اصلی آن ذکر شده، در ۱۵ جون ۲۰۰۲م در نشست سران کشورهای عضو در شهر پیترزبورگ روسیه امضاء و به تاریخ ۱۹ سپتامبر ۲۰۰۳م په اجراء در آمد.

اهداف اصلی این سازمان تقویت اعتماد متقابل میان کشورهای عضو، ترویج همکاری مؤثر در بخش‌های مختلف، تلاش مشترک برای حفظ و تضمین صلح و ثبات در منطقه و نیز حرکت به سوی ایجاد یک نظم سیاسی و اقتصادی بین‌المللی دموکراتیک، عادلانه و منطقی جدید است.[2] در حال حاضر این سازمان دارای هشت عضو دایمی (چین، روسیه، قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان، ازبکستان، هند و پاکستان)[3] و چهار عضو ناظر (افغانستان، ایران، بلاروس و مغولستان) می‌باشد که در کنار این، شش کشور دیگر (آذربایجان، ارمنستان، کامبودیا، نیپال، ترکیه و سریلانکا) نیز به عنوان شرکای گفتگو در این سازمان حضور دارند.

## نشست اخیر در آستانه

در هفدهمین نشست سازمان شانگهای در آستانه، علاوه بر موضوعات داخلی سازمان، روی مسایل جهانی و منطقوی بخصوص وضعیت جاری در شرق میانه، شمال افریقا، اوکراین و نیز افغانستان بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در این نشست به کشورهای پاکستان و هند عضویت دایمی در این سازمان داده شد که نشان‌دهندۀ اهمیت روزافزون و توسعۀ بیشتر این سازمان می‌باشد. روی وضعیت سوریه نیز بحث‌هایی صورت گرفت و تأکید بیشتر بر حل بحران سوریه از طریق گفتگو و راه‌های دیپلوماتیک بود. مسألۀ اوکراین و نیز موضوع برنامۀ اتومی ایران نیز از موضوعات مهمی بود که در این نشست روی راه‌های حل آن بحث و گفتگو صورت گرفت.[4]

---

[2] Shanghai cooperation organization web: “about SCO” at: http://eng.sectsco.org/about_sco/

[3] هند و پاکستان تاکنون از جملۀ کشورهای عضو ناظر این سازمان بودند که در نشست اخیر (هفدهمین کنفرانس سازمان شانگهای – ۲۰۱۷م) عضویت کامل این سازمان را به دست آوردند.

[4] Shanghai cooperation organization web: ”Press release on the results of the Shanghai Cooperation Organization Heads of State Council Meeting”, 09 June 2017, see it online:

در این نشست سران کشورها تأکید کردند که یگانه راه‌حل منازعات و تنش‌های موجود در منطقه، گفتگوهای سیاسی و دیپلوماتیک می‌باشد و در این زمینه همه برای تلاش بیشتر متعهد شدند. برعلاوه، آن‌ها از تلاش‌های دولت و مردم افغانستان در راستای ایجاد یک دولت باثبات و مبارزه با "تروریزم"، افراط‌گرایی و مواد مخدر حمایت کردند.

## تلاش جلب همکاری به افغانستان

افغانستان از سال ۲۰۱۲م به این‌سو به عنوان عضو ناظر در نشست‌های این سازمان به گونۀ منظم اشتراک می‌کند. در اجلاس اخیر نیز رئیس جمهور غنی در رأس یک هیأت بلندرتبۀ دولتی اشراک ورزید. در این سفر حنیف اتمر مشاور امنیت ملی، همایون قیومی مشاور ارشد رئیس جمهور در امور زیربناها، محمد شاکر کارگر نماینده ویژۀ رئیس جمهور در امور کشورهای مشترک المنافع و شاه‌زمان میوندی مشاور ارشد رئیس جمهور در امور روابط عامه و ارتباطات استراتیژیک، نیز وی را همراهی می‌کردند.

رئیس جمهور غنی در سخنرانی خود خطاب به سران سازمان شانگهای گفت: «من اینجا آمده‌ام تا افزایش همکاری‌ها را در عرصۀ مبارزه علیه "تروریزم" اعلام نمایم و در مقابل تروریزمی که کشورهای منطقه را به شمول افغانستان به گونۀ جدی تهدید می‌کند، لازم است اقدامات عملی اتخاذ گردد.» وی افزود که افغانستان در خط نخست مبارزه با "تروریزم" قرار دارد و هم اکنون بیست گروه "تروریستی" علیه مردم ما می‌جنگند و همه‌روزه از ما قربانی می‌گیرند. سخنی که غنی همواره در منبرهای جهانی آنرا به زبان می‌آورد. علاوه بر این غنی گفت: «ما انتظار داریم سازمان همکاری‌های شانگهای روی استراتیژی مبارزه علیه "تروریزم" و قاچاق مواد مخدر کار کند.» وی به این نشست پیشنهاد کرد که کشورهای منطقه براساس یک میکانیزم مشخص، کشورهای حامی تروریزم و تروریزم فرا-منطقوی را تعریف نمایند.

او همچنان اظهار داشت که افغانستان روابط خوب اقتصادی، تجارتی و ترانزیتی با ترکمنستان دارد و همکاری‌ها با کشورهای ازبکستان، تاجکستان، قزاقستان، قرغزستان و آذربایجان درحال توسعه می‌باشد و در این عرصه‌ها روابط افغانستان با هند و ایران در مرحلۀ انکشاف است که بندر چابهار یکی از ابتکارات ترانزیتی و تجارتی میان سه کشور محسوب می‌شود. به گفتۀ او «هدف عمدۀ ما این است که آسیای مرکزی به آسیای جنوبی وصل گردد و پاکستان نیز نقش خویش را در این زمینه ایفا و بهبود ببخشد.»[5]

---

http://eng.sectsco.org/news/20170609/289274.html

[5] ارگ ریاست جمهوری: «رئیس جمهور غنی در هفدهمین اجلاس سران سازمان همکاری‌های شانگهای اشتراک و سخنرانی کرد» ۱۹ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش:

## تاثیرات و دست‌آوردها برای افغانستان

سازمان همکاری‌های شانگهای مهم‌ترین سازمان در منطقه به شمار می‌رود که به همین دلیل نشست اخیر بدون شک دست‌آوردها و تاثیراتی برای افغانستان به عنوان عضو ناظر این سازمان نیز در پی دارد و در این زمینه می‌توان به چند نکتۀ ذیل اشاره کرد:

**نخست**؛ رئیس جمهور غنی در حاشیه‌های این نشست دو روزه، با شماری از سران و مقام‌های کشورهای اشتراک‌کننده دیدارها و ملاقات‌هایی داشت که گسترش روابط سیاسی و اقتصادی و نیز مبارزه با "تروزیرم" از مهم‌ترین موضوعات این دیدارها بود. مهم‌ترین آن ملاقات رئیس جمهور غنی با شی‌جین‌پینگ رئیس جمهور چین بود. در این دیدار شی‌جین‌پینگ گفت که کشورش آماده است افغانستان را در زمینۀ تجهیز وسایل مورد ضرورت نیروهای امنیتی و دفاعی و همچنان در قسمت فراهم‌آوری تجهیزات برای مبارزۀ موثر با "تروریزم" که تهدید جدی و بزرگ برای دو کشور مبدل شده است، همکاری کند. علاوه بر این وی افزود که چین آماده است نشست سه‌جانبه‌ی میان افغانستان، پاکستان و چین را راه‌اندازی کند. مهم‌تر از این، چین و افغانستان دو تفاهم‌نامۀ همکاری در عرصه‌های احداث خط آهن شیرخان- هرات و تطبیق پروژۀ برق روی حوزۀ آب کابل ـ کنر، به امضا رساندند.[6]

**دوم**؛ در حال حاضر روابط کابل ـ اسلام‌آباد در اوج تیره‌گی خود قرار دارد و هر دو کشور همدیگر را به پناه دادن به گروه‌های تندرو متهم می‌کنند. اما سران دو کشور در حاشیۀ نشست شانگهای باهم دیدار کردند و هر دوطرف روی روابط دو کشور، وضعیت منطقه و مبارزه با "تروریزم" گفتگو کردند. در این دیدار هر دو جانب توافق کردند که میکانیزم نشست‌های گروه هماهنگی چهارجانبه و دیدارهای دوجانبه به منظور اقدامات قوی و مشخص علیه گروه‌های "تروریستی" استفاده کنند. علاوه بر پاکستان، نخست وزیر هند نیز در دیدار با رئیس جمهور افغانستان اظهار داشت که هند آماده است در هماهنگی با شرکای خود به خصوص امریکا، افغانستان را در عرصۀ صلح و ثبات همکاری نماید.

**سوم**؛ عضویت کامل افغانستان در این سازمان موضوع مهم دیگر است. در این نشست هند و پاکستان عضویت کامل این سازمان را بدست آوردند که به دلیل آن چانس عضویت کامل افغانستان نیز بیشتر شد. از

---

http://president.gov.af/fa/SHNGAI/17

[6] ارگ ریاست جمهوری: «رئیس جمهور غنی با رئیس‌جمهوری مردم چین ملاقات کرد» ۱۸ جوزا، ۱۳۹۶ هـش:
http://president.gov.af/fa/news-0608

سوی دیگر رئیس جمهور غنی در حاشیۀ این نشست با رشید عالم اف، سکرتر جنرال سازمان همکاری‌های شانگهای دیدار کرد. در این دیدار عالم اف گفت: «ما توجه خاص نسبت به افغانستان داریم و این سازمان خواهان تامین صلح و امینت در افغانستان است چون افغانستان ظرفیت مناسب برای آیندۀ درخشان دارد.» وی بر گسترش روابط افغانستان و کشورهای عضو این سازمان تاکید کرد.[7]

**چهارم**؛ در هفدهمین نشست سازمان همکاری‌های شانگهای و دیدارهای دوجانبۀ رئیس جمهور غنی با سران کشورها، کنفرانس «پروسۀ کابل» مورد حمایت همه قرار گرفت و کنفرانس «پروسۀ کابل» را یک گام مهم در رسیدن به صلح و ثبات دایمی در افغانستان دانستند.

**پنجم**؛ روسای کشورهای تاجکستان و ازبکستان نیز در دیدار با رئیس جمهور غنی، بر افزایش همکاری‌های اقتصادی و تجارتی با افغانستان تأکید کردند. در این زمینه میر ضیایف، رئیس جمهور ازبکستان پیشنهاد کرد، تا یک کمیسیون مشترک اقتصادی میان ازبکستان و افغانستان به منظور توسعۀ اقتصادی و تجارتی ایجاد گردد.[8]

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com  csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: (+93) 784089590

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.

[7] ارگ ریاست جمهوری: «رئیس‌جمهور غنی با سکرتر جنرال سازمان همکاری‌های شانگهای ملاقات کرد» ۱۹ جوزا ۱۳۹۶هـ ش:
http://president.gov.af/fa/news/92

[8] ارگ ریاست جمهوری: «رئیس جمهور غنی با رئیس جمهوری ازبکستان ملاقات کرد» ۱۹ جوزا ۱۳۹۶ هـ ش:
http://president.gov.af/fa/AFUZ/9